لوړو زده کړو اونیزه
هفته نامه تحصیلات عالی
شماره یکصد و شصت و دوم- سال هشتم- جدی -۱۳۹۹ ه. ش
https://mohe.gov.af

# د پولیتخنیک پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژیک پلان لپاره د چاپېریالي تحلیل ورکشاپ جوړ شو



**د لوړو زده کړو وزیر: د مارکیټ د ورځنیو اړتیاوو د پوره کیدو او د هېواد د پوهنتونونو تحقیق او څېړنه د بازار تقاضا ته په پام مهم او بنسټیز کارونه دي چې د هېواد د پوهنتونونو په ستراتیژیکو پلانونو کې باید ورته توجه وشي.**

د پولي تخنیک پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژیک پلان لپاره په کابل کې د چاپېریال څېړنې تر سرلیک لاندې دوه ورځنی ورکشاپ جوړ شو.
د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر، د دې ورکشاپ د پرانیستې په غونډه کې له کابل پولي تخنیک پوهنتون څخه د منني په ترڅ کې وویل، پوهنتونه خپلو موخو ته د رسېدو او تشخیص لپاره د ستراتیژیک پلان جوړول یو مهم کار دی.
هغه څرګنده کړه چې له کابل پولي تخنیک پوهنتون څخه د یو فني او تخنیکي پوهنتون په توګه تمه کېږي، د هېواد له بنسټیزو لومړیتوبونو سره سم چې معدنونه، صنعت، اوبه، کرنه ،چاپېریال ساتنه، انرژي او نورې برخې پکې شاملېږي؛ د خپلو علمي څېړنو د پراختیا لپاره زمینه برابره کړي او په دې اړه مشخصې طرحې ولري...

دریمه پاڼه

## وزیر تحصیلات عالی با والی هلمند دیدار کرد

وزیر تحصیلات عالی با والی هلمند، نماینده مردم هلمند در ولسی جرگه، رئیس موسسه تحصیلات عالی و شماری از مسوولان ادارات مختلف آن ولایت دیدار نمود.



وزیر تحصیلات عالی: **نقش اساسی نهاد های تحصیلی، تولید علم و تحقیقات علمی در یک جامعه می باشد.**

در آغاز این دیدار جنرال عبدالنبی الهام والی هلمند و محمد کریم اتل نماینده مردم هلمند در ولسی جرگه در مورد وضعیت عمومی به ویژه تحصیلات عالی آن ولایت معلومات داده خواستار...

صفحه ۲

## وزیر تحصیلات عالی با تدویر کنندگان جشنواره بین المللی ساینس هند از طریق ویدیو کنفرانس صحبت کرد

وزیر تحصیلات عالی طی یک ویدیو کنفرانس با تدویر کنندگان جشنواره بین المللی ساینس هند در زمینه چگونگی عرضه خدمات آموزشی در هنگام شیوع ویروس کوید ۱۹ تبادل نظر کرد.



دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی برگزاری این جشنواره را یک فرصت خوب برای تبادل تجارب میان کشور های شامل این جشنواره خواند...

دویمه پاڼه

## رییس شبکه راه حل های توسعه پایدار با وزیر تحصیلات عالی از طریق ویدیو کنفرانس صحبت کرد



**وزارت تحصیلات عالی از رهگذر رشته های محیط زیست در نهادهای علمی افغانستان می تواند با بلند بردن آگاهی و دانش محصلان در این بخش آنان را برای پیکار و مبارزه با عوامل ویرانگر محیط زیست بسیج کند.**

رییس شبکه راه حل های توسعه پایدار(SDSN) طی یک ویدیو کنفرانس با ...

صفحه ۳

هفته نامه تحصیلات عالی
صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: پوهنیار حامد عبیدی
خبرنگاران: کاوون رمز، عتیق الله رسیس و سید نقیب الله هاشمی
ویراستار: اختر محمد عبیر ، شمس الرحمن احمدزی و حبیب وقار
دیزاینر: محمد باقر حیدری و هادی قدیری
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۶۹۶
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: info.pr@mohe.gov.af
spokesman@mohe.gov.af

## وزیر تحصیلات عالی با تدویر کنندگان جشنواره بین المللی ساینس هند از طریق ویدیو کنفرانس...

و روی تأثیرات اجتماعی، اقتصادی و آموزشی آن در جهان و افغانستان صحبت کرد. وی افزود، با آن که این بیماری یک تهدید بزرگ است، در عین زمان باعث وحدت نظر و اشتراک مساعی میان تمام دانشمندان در سراسر جهان شد و رقابت میان دانشمندان و شرکت ها برای مهار آن باعث گردید تا نو آوری و تجارب جدید در عرصه های صحی، اقتصادی و آموزش الکترونیکی به نمایش گذاشته شود.




دکتور عباس بصیر ضمن شرح راهکارهای نهادهای آموزشی افغانستان و استفاده از سیستم های آنلاین آموزشی در موقع بروز کرونا، گفت که مقاومت در برابر بحران کوید ۱۹ موجب شد تا اعضای کادر علمی افغانستان نیز دست به راهکارهای جدید بزنند، چنان که تیم تخنیکی پوهنتون علوم طبی کابل ابوعلی ابن سینا توانستند که دستگاه تنفس مصنوعی Ventilator را با قیمت نازل بسازند و از آن در مهار این ویروس استفاده صورت بگیرد.



هدف از برگزاری این جشنواره تبادل دیدگاه‌ها در زمینه دستاوردها و پیشرفت های علمی و فناوری اطلاعات و ارتباطات در میان کشور های هندوستان، افغانستان، کمبودیا، میانمار، فلیپین، سریلانکا و ازبکستان می باشد که همه ساله از سوی وزارت ساینس و تکنالوژی هند با کشور های عضو برگزار می گردد.

## د لوړو زده کړو علمي معین د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د رییس په جنازه کې گډون وکړ

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د افغانستان د کرنې او ټکنالوژۍ د ملي پوهنتون د رییس پوهنمل حضرت میر توتاخیل د جنازې په مراسمو کې گډون وکړ.



پوهنمل بالاکرزي د هغه مړینه د لوړو زده کړو وزارت کورنۍ لپاره یوه ستره ضایعه وبلله. پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د مرحوم توتاخیل د خدمتونو یادونه وکړه او د علمي کادر د غړي او کندهار پوهنتون او د کرنیزې ټکنالوژۍ د ملي پوهنتون د رییس په توگه یې د هغه د تېرو دورو د خدمتونو یادونه وکړه، د هغه مرگ یې ستره او نه جبرانېدونکې ضایعه وبلله.





علمي معین د مرحوم توتاخیل کورنۍ او دوستانو ته تسلیت ووایه او ارواښاد ته یې د فردوس جنت او خپلوانو ته یې د جمیل صبر غوښتنه وکړه.

## وزیر تحصیلات عالی با والی هلمند دیدار...

توجه جدی وزارت تحصیلات عالی در قسمت موسسه تحصیلات عالی هلمند گردیدند.
متعاقباً پوهنیار محمد سورگل عبدالرحمن رئیس موسسه تحصیلات عالی هلمند ضمن ارایه معلومات در مورد موسسه یاد شده، یک سلسله پیشنهادات شان را که شامل انتقال فارم مالداری به موسسه تحصیلات عالی هلمند جهت پیشبرد پروژه های تحقیقی، ایجاد پوهنځی طب، ارتقای موسسه تحصیلی هلمند به پوهنتون، ایجاد مجله علمی، اسفالت سرک های داخلی موسسه و توجه به امورات امنیتی می باشد، با وزیر تحصیلات عالی شریک ساخت.
دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی بعد از استماع معلومات و پیشنهادات یاد شده از مسوولان و مردم ولایت هلمند که با وجود مشکلات امنیتی؛ باز هم در پی آموزش علم و دانش می باشند قدردانی نمود.
وی گفت که در اثر تلاش های وزارت تحصیلات عالی در رابطه به موضوع کمک یک و نیم میلیون دالر وزارت مبارزه علیه مواد مخدر به موسسه تحصیلات عالی هلمند که از سالیان متمادی لاینحل باقی مانده بود، کابینه کشور فیصله نموده است که پول یاد شده در اختیار موسسه تحصیلات عالی هلمند قرار داده شود.



نامبرده در مورد ایجاد پوهنحی طب گفت که وزارت تحصیلات عالی با درنظرداشت قوانین و مقررات و اصل انکشاف متوازن تمام ولایات کشور، در قسمت پیشنهادات موسسه تحصیلات عالی هلمند اقدام خواهد کرد. موصوف علاوه کرد که با توجه به خصوصیات ولایات کشور از نقطه نظر موقعیت جغرافیایی، در قسمت ایجاد رشته های جدید، برنامه های روی دست دارد که تطبیق خواهد شد.
موصوف خاطر نشان ساخت که نقش اساسی نهاد های تحصیلی، تولید علم و تحقیقات علمی در یک جامعه می باشد و در صورتیکه این نقش به درستی ایفا نگردد، نهاد های تحصیلی ماهیت اصلی شان را از دست خواهند داد که جهت تحقق این امر وزارت تحصیلات عالی تمام فرصت های مناسب برای نهاد های تحصیلی کشور را مهیا و در اختیار شان قرار خواهد داد.
وی در رابطه به مشکلات امنیتی گفت که وزارت تحصیلات عالی یک طرح جامع را به مقام عالی ریاست جمهوری و شورای امنیت سپرده است و قرار است مسوولیت امور امنیتی نهاد های تحصیلی کشور به ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه سپرده شود.
همچنان دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی به ریاست های مربوطه نیز هدایت داد تا در مورد پیشنهادات موسسه تحصیلات عالی هلمند اقدامات اصولی شان را آغاز نموده و از پیشرفت آن به مقام وزارت گزارش ارایه کنند.
موسسه تحصیلات عالی هلمند در سال ۱۳۸۷ تاسیس شده است که در حال حاضر دارای صد تن پرسونل کادری، ٦ پوهنحی، ۲۰ دیپارتمنت، سه هزار تن محصل دختر و پسر و ٤٥ تن پرسونل اداری دارد.

## د لوړو زده کړو وزیر د سیدجمال الدین افغان خصوصي لوړو زده کړو د موسسې له رهبري ډلې سره وکتل



د لوړو زده کړو وزیر د سید جمالالدین افغان لوړو زده کړو خصوصي موسسې له استادانو او رهبري ډلې سره وکتل.

په دې لیدنه کې د یادې مؤسسې رهبري ډلې د لوړو زده کړو وزیر ته د مبارکي ویلو ترڅنګ، د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو پر وړاندې خنډونه لکه د مالیې لوړوالی، د استادانو د رتبو او د کادري غړو د تقاعد او امتیازاتو په اړه خبرې وکړې.

د لوړو زده کړو وزیر داکټر عباس بصیر د یادې مؤسسې د استادانو او رهبري ډلې د ستونزو او نظرونو له اورېدو وروسته وویل چې د لوړو زده کړو وزارت د لوړو زده کړو د خصوصي سکتور د پیاوړتیا لپاره په یو لړ پروګرامونو کار کوي څو له یوه لوري د لوړو زده کړو د بنسټونو د کمي او کیفي لوړتیا زمینه برابره شي او له بل لوري د هېواد د لوی پاړکي ځوانانو لپاره د زده کړو اسانتیا برابره شي.

نوموړي زیاته کړه چې موږ هغه وخت کولای شو د لوړو زده کړو عالي پړاو ته ورسېږو چې پر زده کړو سربېره، پر دولتي او خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو کې د څېړنې او تحقیق چارې هم بنسټیزې کړو او خپلې تګلارې په څېړنیزو چارو سره رواني کړو او په پایله کې وکولای شو تولنې ته وړ کارونه وړاندې کړو.

همداراز د لوړو زده کړو وزیر د دوی د غوښتنو په اړه وویل چې موږ به له دولتي او خصوصي سکتور څخه په ګډه د خصوصي سکتور د ستونزو د اواري لپاره یوه کمېټه جوړه کړو چې ستونزې په بنسټیزه توګه و ارزوي او د یادو سکتورونو د استازو په حضور به مطلوبو پایلو ته ورسېږو.

## رییس شبکه راه حل های توسعه پایدار با وزیر تحصیلات عالی از طریق ویدیو کنفرانس...

وزارت تحصیلات عالی روی چالش ها و آموزش های که بتواند آسیب در محیط زیست را مهار کند صحبت کردند.



دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی ضمن حمایت از این ابتکار، برنامه های وزارت تحصیلات عالی را در زمینه توسعه آموزش های که بتواند افغانستان را در راستای توسعه اهداف پایدار برای حل چالش های محیط زیست کمک کند بیان کرد.

وزیر تحصیلات عالی با ارایه راه حل های منطبق با وضعیت افغانستان گفت که وزارت تحصیلات عالی از رهگذر رشته های محیط زیست در نهادهای علمی افغانستان می تواند با بلند بردن آگاهی و دانش محصلان در این بخش آنان را برای پیکار و مبارزه با عوامل ویرانگر محیط زیست بسیج کند.

علی احمد یوسفی رییس شبکه راه حل های توسعه پایدار افغانستان، با سپاس گزاری از وزارت تحصیلات عالی گفت که زمینه سازی، محلی سازی و ارایه راه حل برای دستیابی به اهداف توسعه پایدار در افغانستان بدون مشارکت و حمایت نهاد هاي علمی و تحصیلي امکان پذیر نیست.



علی احمد یوسفی افزود که برای دسترسی به اهداف توسعه پایدار و تأمین اولویت های آن برای مبارزه با چالش های محیط زیستی ایجاب می نماید تا با نهادهای آموزشی داخلی و سازمان های شبکه راه حل های توسعه پایدار سازمان ملل متحد باید هماهنگی صورت بگیرد.

## د پوهنتون یو شمېر استادانو د لوړو زده کړو له وزیر سره ولیدل

د یوشمېر خصوصي پوهنتونونو او ښوونځیو استادانو د لوړو زده کړو وزیر سره په لیدنه کې د علمي چاپېریال ښه کېدو په موخه خپلې طرحې شریکې کړې.

د یوشمېر خصوصي پوهنتونونو او ښوونځیو استادانو د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر سره د لیدنې په لړ کې په علمي بنسټونو کې د ستونزو او فرصتونو په اړه خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې د پوهنیز نظام د ښه کېدو لپاره؛ چمتو دي څو له لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ د اکاډمیکو معیارونو سره سم علمي موخو ته د رسېدو په برخه کې همکاري وکړي.

آصف مهاجر چې د یادو استادانو په استازولۍ یې خبرې کولې، د دغې ډلې دتګلارو او طرحو په وړاندې کولو سره یې؛ د لوړو زده کړو وزارت له لوري هغو زده کړیالانو ته د اېوارډ ورکولو وړاندیز وکړ چې په وینا یې په لومړیو کې نوښتونه رامنځ ته کوي او دا کار ددې لامل کېږي چې هغوی د انساني او فني علومو په برخه کې څېړنې او تجربې ترسره کړي.



د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر د یوشمېر خصوصي پوهنتونونو او ښوونځیو د استادانو له برنامو او طرحو څخه په هرکلي سره د لوړو زده کړو وزارت برنامې وړاندې کړې او ویې ویل؛ چې د لوړو زده کړو وزارت د درسي نصاب د بدلون په بهیر کې دی او هڅه کوي چې د زده کړیالانو د جذب لوړاوي په برخه کې د کیفیت، له سیمه ییزو او نړیوالو معیارونو سره سم د زده کړو پرمختګ، د څېړنې او تألیف بنسټونو او ښې حکومتولۍ په برخه کې د پام وړ او رانه بدلونونه رامنځ ته کړي.

د لوړو زده کړو وزیر ډاکتر عباس بصیر د غوره زده کړیالانو لپاره د مډال او یا اېوارډ ورکړې ته په اشارې وویل؛ چې هغو ټولو زده کړیالانو او استادانو د تشویق او ستایلو پر مېکانېزم کار روان دی چې طرحې یې د لوړو زده کړو وزارت د روزنیزو برنامو د ښه والي لامل شي.

## د پولیتخنیک پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژیک پلان لپاره د چاپېریالي تحلیل ورکشاپ...

د لوړو زده کړو وزیر وویل چې د یاد پلان په جوړښت کې د اړوند ادارو مشورې او پر مخکې د پرتو خنډونو پېژندل مهم دي او په دې برخه کې باید جدي پاملرنه وشي.

هغه زیاته کړه د لوړو زده کړو وزارت درېیم ستراتیژیک پلان هم د روان کال تر پایه بشپړېږي. د لوړو زده کړو د وزیر په وینا د مارکیټ د ورځنیو اړتیاوو د پوره کیدو او د هېواد د پوهنتونونو تحقیق او څېړنه د بازار تقاضا ته په پام مهم او بنسټیز کارونه دي چې د هېواد د پوهنتونونو په ستراتیژیکو پلانون کې باید ورته توجه وشي.

ډاکتر عباس بصیر د ظرفیتونو پر لوړولو او د تحصیلي بنسټونو پر جذب ټینګار وکړ اود تحصیلي بنسټونو له مسوولینو یې وغوښتل چې د وزارت له مقام سره خپلې طرحې د لازمو اقداماتو د نیولو لپاره شریکې کړي.

همداراز د کابل پولي تخنیک پوهنتون رییس پوهنوال عبدالرشید اقبال وویل چې نوی ستراتیژیک پلان له مخکیني پلان سره توپیر لري او دا پلان په داسې حال کې ترتیبېږي چې کابل پولي تخنیک پوهنتون خپل اکاډمیک باور ترلاسه کړی دی او کولای شي له اوسنیو اړتیاوو سره سم د راتلونکو پنځو کلونو له پاره خپل پروګرامونه ترتیب کړي.

د یادونې وړ ده چې د دوه ورځني ورکشاپ په بهیر کې ګډونوالو په بېلابېلو ګروپونو کې د ستراتیژیک پلان په اساسي کرښو کار وکړ چې د وزارت مقام له رهبری سره تر توحید او انسجام وروسته شریکېږي.

# Higher Education
## Weekly

https://mohe.gov.af

۱٦۲ مه گڼه - اتم کال -۱۳۹۹ هـ.ل - مرغومی

## د ننگرهار پوهنتون بشپړ اکاډمیک اعتبار اخیستل د یوې سترې غونډې په ترڅ کې ونمانځل شو

د هېواد په کچه د لوړو زده کړو د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو پروسې په درېیم پړاو کې په لوړو نومرو د ننگرهار پوهنتون بریا او بشپړ اکاډمیک اعتبار اخیستل د لیندۍ په ۲۹مه د یوې سترې غونډې په ترڅ کې ددې پوهنتون په انگړ کې ونمانځل شو.

په همدې اړه جوړو شویو مراسمو کې د ننگرهار پوهنتون د رهبرۍ، استادانو، محصلانو او اداري کارکوونکو سربېره د ولسمشر ستر سلاکار او د ننگرهار والي، د ولایت مقام اداري او مالي مرستیال، د ولایتي اداري رئیسانو، د یو شمېر دولتي او خصوصي پوهنتونونو رئیسانو، علماوو، قومي مشرانو، مدني فعالانو او درسنیو استازو برخه لرله.



د ننگرهار پوهنتون رئیس پوهاند داکټر خلیل احمد بهسودوال د غونډې برخوالو ته د ښه راغلاست ترڅنگ د پوهنتون د یادې سترې بریا او لاسته راوړنې مبارکي وویله او د تضمین کیفیت پروسې په درېیو پړاوونو کې یې د ننگرهار پوهنتون په علمي مزل رڼا واچوله.

نوموړي د اکاډمیک اعتبار اخیستل د پوهنتون د ټولو منسوبینو، له رهبرۍ او استادانو نیولې د اداري او خدماتي کارکوونکو پورې د ټولو ښاغلو او آغلو د هلو ځلو او زحمتونو پایله وگڼله، چې ننگرهار پوهنتون په لوړو (۸۹,۵) نمرو بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کړ او زیاته یې کړه، چې د یاد سند نه په گټې اخیستنې په پوهنتون کې نوي پوهنځي، دیپارتمنتونه، د فوق لیسانس نورې برنامې رامنځته کړي او یو شمېر پوهنځي به پوهنتونونو ته لوړ کړي.

د ولسمشر سلاکار او د ننگرهار والي ضیاءالحق امرخېل د ننگرهار پوهنتون له مسئولینو څخه مننه وکړه، چې په هڅو یې د لوړو زده کړو تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو پروسې په درېیم پړاو کې لوړې نمرې ترلاسه کړې او د همدې بریا له امله یې ټولو ته مبارکي ورکړه.

نوموړي زیاته کړه، چې د ننگرهار پوهنتون تر ډېرو لوړو ژورو گاللو وروسته یاد معیار ترلاسه کړی او د پوهنتون مسئولینو څخه یې وغوښتل، چې د دې بریا ساتلو ترڅنگ د سیمې او نړۍ په کچه د اعتبار تر لاسه کولو په موخه هڅې وکړي.

ده همدا راز ډاډ ورکړ، چې ولایتي اداره به د پوهنتون د ځمکو غصب څخه د خلاصون، انکشافي پروگرامونو تطبیق او نورو برخو ته په ټول توان سره پاملرنه وکړي.

د ننگرهار مالي او اداري مرستیال پوهنوال ببرک میاخېل د جمهور رئیس محمد اشرف غني، د ننگرهار پوهنتون د علمي چارو مرستیال پوهندوی داکټر محمد حامد کډوال د لوړو زده کړو وزارت د علمي معین پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي، د محصلانو چارو مرستیال پوهندوی سید اکرم هاشمي د مشرانو جرگې رئیس فضل هادي مسلمیار پیغامونه ولوستل، چې په کې د مبارکۍ ترڅنگ دې پوهنتون سره د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړل شوی و.

په ولسي جرگه کې د ننگرهار د خلکو استازي عبدالرؤف شپون او نبي االله باز، د ولایتي شورا غړی ډاکټر ناصر کاموال، دیني عالم مولوي عزیز الرحمن او د ننگرهار پوهنتون د فارغانو ټولنې مرستیال ډاکټر حسیب الله تره کی د غونډې نور ویناوال وو، چې ټولو د پوهنتون د یادې لاسته راوړنې ستاینه وکړه او په خپله برخه کې یې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

د غونډې په دویمه برخه کې د ننگرهار پوهنتون د ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځي له خوا جوړ شوی د پوهنتون مستند ننداره ته وړاندې شو او په وروستۍ برخه کې د پوهنتون یو شمېر مسؤلین او استادان د ننگرهار والي او د پوهنتون اداري له لوري د ښو کړنو له امله په درېمه درجه تقدیرنامو، ستاینلیکونو او مډالونو وویاړل شول.

## رؤسای تعدادی از پوهنتون های کشور های افغانستان و ایران از طریق ویدیو کنفرانس با یکدیگر گفتگو نمودند

هدف از این ویدیو کنفرانس که به ابتکار پوهنتون علامه طباطبایی کشور ایران راه اندازی شد، تأثیر تحقیقات پوهنتون ها بر جامعه عنوان گردیده بود.



پوهنوال دکتور عبدالله فایز رئیس پوهنتون هرات ضمن تشکر از برگزار کنندگان این ویدیوکنفرانس پیرامون فعالیت های علمی-تحقیقی پوهنتون هرات معلومات داده گفت که در یک سال گذشته ۷۷ تحقیق علمی در پوهنتون هرات پیرامون مسائل اجتماعی انجام و نتایج آن مورد استفاده قرار گرفته است.



دکتور فایز همچنان افزود تحقیقات دیگری در مورد مسائل فرهنگی، مهاجرتی، اقتصادی و توانمند سازی زنان نیز صورت گرفته است؛ وی همچنان اظهار امیدواری کرد که یک مرکز تحقیقات علمی میان پوهنتون های افغانستان و ایران ایجاد گردد.



در این ویدیوکنفرانس رؤسای پوهنتون های کابل، هرات و بلخ از افغانستان و روسای پوهنتون های علامه طباطبایی، فردوسی و سیستان و بلوچستان از کشور ایران اشتراک داشتند که پیرامون موضوع به بحث و تبادل نظر پرداختند.

## تفاهم نامه همکاری میان ریاست های پوهنتون فاریاب و فاریاب برشنا شرکت امضاء شد

به اساس این تفاهم نامه طرفین متعهد به برنامه های مشترک در بخش های کارآموزی و کسب تجارب محصلان دیپارتمنت برق و الکترونیک پوهنځی انجنیری و راه اندازی سمینارها و کنفرانس های علمی توسط استادان پوهنځی انجنیری می باشند.



این تفاهمنامه میان پوهنمل فیروز اوزبیک کریمی رئیس پوهنتون فاریاب و محترم انجنیر ولی محمد اورتاق رئیس فاریاب برشنا شرکت امضاء گردید.



رئیس پوهنتون فاریاب و رئیس فاریاب برشنا شرکت در رابطه به اهمیت این تفاهمنامه در آماده سازی محصلان رشته برق پوهنتون فاریاب با نیاز بازارکار و تقویت مهارت های مسلکی آنان صحبت نموده روی تطبیق بهتر مواد تفاهمنامه تاکید ورزیدند.